# د چوکي
# دهقان



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اثر
پیخلیک: سلواغه/ کال ۱۴۰۷ الیردی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


**لیکي پوهه:**

**سرلیک: د چوکۍ دهقان**
**لیکوال:** داکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتی ډیزان:** داکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۲۰
**چاپ نېټه:** سلواغه/ کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې
ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتئ........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ....................................................... ۲
لیکي پوهه:...................................................................... ۳
لړلیک ........................................................................ ٤
ترانې (پیل، شروع، برید)..................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:............................................................ ۷
داستان:.......................................................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لیست.................................................. ٥٠
د کار لاندې کتابونو لیست .................................................. ٥٥
د وخت او امکان په صورت کې............................................. ٥٦
د پخښتئ څټ ................................................................. ٥۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناخاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل ناول چې کیسه یې په لغمان ولایت قرغیو ولسوالۍ کې پیل شوې، او ځند وروسته الته پای ته رسېدلې ده، ولیکم او د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجنیران نه دي، او نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په درنښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- .........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- .........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library


**داستان:**

واجد خان په قرغيو ولسوالۍ کې يو خان و.

هغه شپږ (۶) ځامن او دوې لورګانې درلودې.

په سيمې کې يې لويه کلا وه.

د يوې کلا په منځ کې يې بله کلا وه، کومې کې چې خان د خپلو اولادونو سره اوسېده، مګر په لويې کلا او د خان د انګړ نه د باندې ګاونديان اوسېدل.

په هغوی کې بزګران، ډم، موڅلی (موسلی)، لرګي ماتونکی او نور کسبه کاران اوسېدل.

د هغو په جمله کې يوه هم د چوکې دهقان و.

ټول به کلا ته د يوې لويې دروازې نه، ننوتل او وتل.

د ننوتو دروازې مخې ته يوه لويه ډېره وه.

د ډېرې په يوې څنډې کې يو کوشنی جومات هم و، کوم کې چې د کلي نارينوو، لمونځونه کول.

ماشومانو به د سهار او ماسپښين لمانځه نه وروسته، ديني زده کړې کوې.

جومات د ننه يوه اوجره (حجره، خونه يا کوټه) وه.

اوجرې په منځ کې نغری او د پاسه يې موری وه.

الته به د جومات ملا امام اوسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله ناکله به د لري ځای مېلمانه هم اوسېدل.

په نغري کې به د ژمي په موسوم کې، اور بلېده (روښانه) او جومات به د همدې اوجرې(هجرې، کوټې) نه تودېده.

جومات ختئين وړ.

جومات په منځ کې يې څو د لرګي ستنې (پايې) وې کومې چې په سر کې يې سرونه (کله ګي) درلودې چې د لهاړو (کوشنيو تيرانو) په ذريعه(واسطه) چت پوښل شوی و.

د لهاړو د پاسه شړ بيا خټه (غوره ګل) بيا وچه خاوره او په پای کې اخېړ شوی و.

بام يې دوې د لرګيو ناوې درلودې.

د جومات فرش ختئين او په فرش له پاره به يې د کلي خلکو وچ مونجونه راوړل او بيا به يې پر ځمکې اوارول.

د کلي خلکو به پر اوارو شويو مونجانو لمونځ کاوه.

په هغه وخت کې د نن په شان پلاستيکی فرشونه او غالی نه وې.

د خلکو روزګار هم ښه نه و.

ډېرو خلکو پيسو ټولولو پسې نه ګرځېدل.

په لږو به، خلکو بسنه(قناعت) کوه.

ټولو يوه د بل سره مرستې کوې.

په ساده ژوند خوشحاله او شکر ګذاره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چوکۍ دهقان

.................

د جومات نه د باندې کوشنی غولی و، کوم چې تر یوه متراوچتوالي شاو خوا یې دېوالونه در لودل او په یوه ځای کې یې د ننوتو لاره او په منځ کې یې لرګی و.

دا ټول دېوالونه د دې له پاره وه چې، مالونه لکه:

غویان او پسونه د جومات غولي ته د ننه (داخل) نه شي.

دا غولی به د پسرلي، اوړي، مني وخت کې د لمانځه له پاره کارېده او خلکو به په کې لمونځونه ادا کول.

د جومات د ننه به د کلي خلکو د ژمي او یا هم د بارانونو ورېدو په وخت کې کې لمونځونه ادا کول.

د جومات مخ ته لويه بیاله (ویاله) وه.

الته به ټولو اودسونه کول.

د کلا په یوې څنډې کې اوچت برج و.

د برج خوا ته یوه غټه د خرما ونه وه، تر اړخ یې د ژمي پیتاوي ځای او تر خوا یې کوشنی لښتی تېر شوی و.

الته به د ژمي په موسوم کې د کلي سپین ږیری او ځوانان، لمر ته کښېناستل.

کله نا کله به الته یې اور بل کاوه او ځانونه به یې تودول.

خان الته یو زوړ کټ درلود او هغه به پر خپل کټ کښېناسته.

سهار به یې توشکه او بالښت پر کټ کېښوده او دا دنده دکلي د یوه ځوان پر غاړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کلي خلک به الته د سهار چاى څښلو نه وروسته، راټولېدل او تر غرمې به هغوی الته وو.

دا وخت د کاراو بار وخت نه وه.

غنم به شنه او تر یوه څپک به لږ اوچت وو.

ورځې به لندې وې.

هوا به هم، سړه وه.

وخت هم ژمی وو.

هغوی به هر راز خبرې او تېرې شوې کیسې کوې.

کله د یوه غره او کله به د بل غره خبرې کېدې.

کله ناکله به الته ځوانانو غېږې هم نیوی.

او څه نورو به الته قطې (پرې) کوې او ورځ به یې تېروه.

د غرمې ډوډۍ پر وخت به هر څوک خپلو کورونو ته تلل.

یاد خان الته  تر شپېتو (۶۰) جریبو ډېره ځمکه درلوده، د ځمکو شاوخواوې د اوبو لویې او کوشنۍ بیالې (ویالې) وې.

هغه به په ځمکو کې ګنې، شولې او غنم کرل.

څه ځمکه یې د ترکارۍ کرلو د پاره بېله (جلا) کړې وه.

د کلي ختیځ لورې ته یې باغ جوړکړی و.

د باغ ځمکه یې هم تر دوې جریبو، ډېره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چوکۍ دهقان

................

په باغ کې يې هر راز ونې لکه: نارنجان، لوکاټ، بهيان، انار او انځر وو.

څه نه ميوه لرونکي و نې لکه ګلبېد، پنچه چنار، صبر او نښتر تر سترګو کېدل.

الته خورا ښکلې ګلان لکه رابېل، چمبېل، ګلاب، داودي او نرګس هم  شتون درلود.

هغه قولبيان (غوايي) او غواګانې درلودې.

څه ځمکه به يې په اماني ورکړې وه او څه نورو ته يې د چوکې دهقان (بزرګر يا کروندګر) نيولی و.

د هغه د چوکې دهقان، ډېر تکړه او قوی و.

د هغه نوم صودر(سودر) وه.

په لمړۍ ورځ کله چې د خان کور ته راغي، سپور خوره وه.

هغه به لس د چرګې هګۍ خامې خوړې.

په دوډۍ خو نه مړېده.

درې څلور ډوډۍ به يې د چای سره، خوړې.

کله به يې يوه وخت او کله به يې دوې وخته ډوډۍ خوړه.

ډوډۍ يې خورا ډېره او بې توله خوړه.

هغه به د جومات په اوجرې (حجرې، خونې) کې اوسېده.

خان هيران و چې د هغه سره، څه وکړۍ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورځ بله تېره او شپه شوه.

خان هغه ته یوه کوټه ورکړه، کومه چې د کلا دروازې تر څنګ (شا) وه.

په کوټې کې یو کټ او یو نیمڅی وه.

کوټې یوازې یوه د لرګیو دروازه درلوده.

د کوټې په منځ کې نغري او د پاسه یې یوه موری وه.

د موری نه به د نغري نه دود د باندې کېده او هم څه ناڅه رڼا راتله.

کله به چې دروازه بنده شوه په کوټې کې به توره تیاره وه.

کس به مجبوره شو چې د دروازې یوه پله (ترازه) خلاصه پرېږدي.

بیا د خان ښځې هغه ته څه ختین لوښي هم ورکړل چې د ځان له پاره خپلې خوښې خواړه تیار کړې.

هغه د خان نه د یوې ورځې له پاره رخصت واخیست چې خپله بستره راوړي.

خان ومنل.

هغه هم د خپل اوسېدو پخواني ځای ته لاړ.

شپه یې الته تېره کړه، بیا سهار د خوبه پاڅېد او بستره یې څنګ (شا) ته واچوه او د خان کور خوا ته، روان شو.

ګړی وروسته د خان کلي ته ورسېد.

لمړی کلا او بیا کوټې ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بستره یې پر کټ کښېښوده.

بیا یې خپله بستره پر کټ اواره کړه.

پر بسترې پرېوت او خپله ستوماني یې و نیوه.

ګړی تېره شوه.

له ځایه پاڅېد.

خپلې زړې څپلۍ یې پر پښو کړې.

د کوټې نه د باندې شو.

دروازه یې وتړه.

کلا دروازې ته لاړ او بیا د کلا دروازې نه هم و وت.

دېرې خوا ته روان او بیا د جومات انګړ ته یې ځان و رساوه.

البته څه نور اوزګار کسان هم ناست وو او غورو، ټوکو، ټکالو کې ډوب وو.

صودر هغوی ته نږدې شو.

سلام یې ورکړ.

هغوی هم د صودر سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا صودر و ویل:

کولای شم د تاسو خوا ته کښېنم؟

هغوی و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


هو!

دلته د شولو پر واښو کښېنه.

صودر هم ځه د شولو واښه يې تر پښو لاندې کړل.

څادر يې له اوږې واخيست او پر واښو يې واچاوه.

بيا د نور په شان پر واښو کښېناست.

هغوی د صودر نه پوښتنې پيل کړې.

ناست کسانو به پوښتنې کوې او صودر به ور ته، ځوابونه ويل.

څه وخت تېر شو.

يوه کس و ويل:

تاسو غوړې کوئ.

زه به کور ته لاړ شم او چای به راوړم.

صودر زمونږ مېلمه دی.

صودر مننه وکړه.

کس کور ته لاړ.

څو دکيکې وروسته د چای پطنوس سره ورسېد.

خپل ځای ته لاړ او پطنوس يې خپل خوا ته کښېښود.

پيالې يې کنګال (اوکش، آبکش) کړې.

بيا يې په پيالو کې چای واچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه، یوه پیاله یې د هرکس، مخې ته کښېښوده.

بیا یې یوه پیاله هم خپلې مخې ته کښېښوده.

د ګوړې غاب یې د پطنوس نه راواخیست او هرکس ته یې ګوړه وړاندې کړه.

کسانو په وار سره د غاب نه لږه، لږه ګوړه واخیسته او چای په ښلو سره یې پیل کړ.

په ناستو کسانو کې یو سپین ږیری هم و.

هغه د صودر نه پوښتنه وکړه.

څو خامې هګۍ خوړی شې؟

هغه و ویل:

تر شلو دېرې.

بیا یې و پوښتل:

څو غوریه وریجې یا پلو خوړی شې؟

صودر و ویل:

تر لسو غوریو پورې.

بیا یې و پوښتل:

شوروا څنګه؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر ښورروا څوک موړ شوی دی، ته هم عجيبې پوښتنې کوې.

بيا ټول، په خندا شوو.

په دې وخت کې هغه سپين ږيري کس و ويل:

زما په اند صودر بله ستونزه لري.

هغه سپوره خور شوی دی.

زه به خان صيب سره خبره وکړم تر څو هغه ته غوړ خواړه ورکړي.

صودر و ويل:

غوړي مړي پر ما کومه اخېزه نه کوي.

مياشت مخکې مې يوه ارکاره د غوا غوړي په نهاره څښلي و.

سپين ږيرې و ويل:

ته رښتيا وايې.

خو!

و به ګورو.

دا خبره ټول په ياد ولرئ.

هغوی تر ماښام لمونځ پورې الته ناست وو.

ټوکې او ټکالې يې کوې.

ماښام لمونځ وخت ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپین ږیري آذان وکړ.

بیا جمع تیاره شوه.

قامه و ویل شوه او خلک په صفونو کې ودرېدل.

د جومات ملا امام هم لمونځ پیل کړ.

لمونځ خلاص او هر څوک خپلو کورونو ته لاړل.

صودر هم خپلې ټاکل شوې کوټې ته لاړ.

څو دکیکې وروسته د خان کوشني زوی هغه ته د شپې ډوډۍ راوړه.

هغوی سابه پاخه کړي وو.

د سابو غاب سره دوې د تناره ډوډۍ هم په دسترخان کې تاوې شوې وې.

صودر د خان له زویه غاب واخیست.

بیا یې دسترخوان اوار کړ.

غاب یې پردسترخوان کښېښود.

بیا یې بسم الله و ویل او پر ډوډۍ خوراک یې، پیل کړ.

هغه په مزه، مزه ډوډۍ وخوړه.

خو په ډوډۍ موړ نه شو.

لږ څنډ وروسته نورو ګاونډیانو هغه ته هم کټغ او د تناره ډوډۍ راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


صودر هغه هم وخوړه.

بيا د خان زوی هغه ته چای راوړ.

هغه د چای په ښنلو باندې پيل کړ.

چای يې وښبنه.

بيا يې کاسې پرېمينځې.

هغه يې يوې خوا ته کښېښودې.

دستر خوان يې هم ټول او د غابونو تر څنګ، کښېښود.

په دې وخت کې يوه پيشو دروازې نه سر د ننه کړ.

هغې په مياو، مياو ويلو پيل کړ.

صودر هغې ته و ويل:

پشتې!

ځه ورکه شه!

زه په خپله موړ نه شوم.

تا ته به څه درکړم.

نه په غاب او نه په دسترخوان کې، څه پاتې دي.

پيشو البته د دروازې اړخ ته غلې کښېناسته.

پښې يې و غزوې.

سر يې پر پښو کښېښود او صودر ته، په کتو شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګړۍ ئ الته، پاتې شوه.

بیا له ځایه اوچته شوه او د دروازې نه لرې شوه.

ورو، ورو بل کور چې د بزګر و، روانه شوه.

صودر ډېر خواشینی شو.

خوځه یې د لاسه نه راتلل.

شپه شوه او هغه د کوټې درواز وتړه.

کټ ته لاړ.

خپل ځای یې سم کړ.

پر کټ پرېوت.

بالښت یې سر لاندې کړ.

خپل څادر یې پر ځان کش کړ.

په سوچو، سوچو کې بیده شو.

سهار شو.

هغه د ملا آذان سره سم، د خوبه پاڅېد.

د کوټې نه و وت.

دروازه یې بنده کړه.

بیا کلا دروازې ته نږدې شو.

د کلا دروازه بنده (تړلې) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دروازې څنګ ته ودرېد.

لږ ځنډ نه وه تېر شوی چې یو بزګر هم دروازې ته نږدې شو.

صودر هغه ته سلام ورکړ.

بزګر هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې له صودر نه پوښتنه وکړه.

دلته څه د پاره ولاړ يې؟

هغه و ويل:

د ملا په اذان، ويښ شوم.

اوس غواړم اوداسه له پاره، د باندې لاړ شم.

بيا بزګر هغه ته دروازې د خلاصولو چل، و ښود.

صودر ډېر خوشحاله شو.

هغوی دواړه د کلا دروازې نه يوه ځای و وتل.

د هغوی نه وروسته نورو کسانو هم اوداسه له پاره د کلا نه د باندې شوو.

خلکو اودسونه وکړل او بيا جومات خوا ته لاړل.

ځنډ وروسته جمع تياره او د کلي خلکولمونځونه ادا کړل.

څه خلک بېرته خپلو کورونو او ځيني نور د جومات انګړ کې پر شولو واښو کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بزګران خپلو ځمکو خواوو ته لاړل تر څو د خپلو فصلونو حال او احوال واخلي.

خان هم د جومات انګړ یوه دیوال ته تکیه وکړه.

د کلي سپین ږیری او څه نور کسان د هغه شاوخوا سره راټول او کښیناستل.

صودر هم الته ځان ورساوه او یوه اړخ ته کښیناست.

په دې وخت کې خان د صودر نه پوښتنه وکړه.

د شپې دې خوب وکړ؟

هغه و ویل:

هوصیب!

بیا په دې وخت کې سپین ږیري و پوښتل:

په ډوډۍ خو موړ شوې؟

هغه و ویل:

موړ خو نه شوم.

مګر څه ناڅه، چاره وشوه.

بیا خان سپین ږیري ته مخ واړاوه، او ویې ویل:

صودر به په خیټه موړ کړای شوو؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


هو صیب!

صودر سپوره خور شوی دی.

باید هغه ته په کتغ کې ډېر غوړي واچوو تر څو عادت شي.

نورو هم د سپین ږیري خبره ومنه (تایید) کړه.

بیا خان و ویل:

ستونزه لکه چې حل شوه.

سپین ږیری په خندا شو.

په دې وخت کې یې د یوه کس کیسه خلکو ته بیان کړه، چې هغه په سترګو لیدلی و.

بیا خان و ویل:

هرڅوک چی صودر ته خواړه راوړي، باید غوړ اوسي.

ټولو ومنه.

د صودر خواړو توپیر و موند.

خواړه یې غوړ شوو.

هغه په خپل کار پیل کړ.

هغه به تر غرمې قولبه کوه.

غرمې به یې غویان خوشې کول.

بیا به یې هغوی ته واښه ربېل او د هغو مخې ته اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته به ډوډۍ ته، ته.

د ماسپښين اذان نه وروسته به يې غوايي اوبه کول.

بيا به يې د خان د کور لرګي ماتول.

مازيګر به يې د خان غوايې غوجلې ته، د ننه کول او پر آخور به يې تړل.

لږ وروسته به يې هغو ته وابنه اچول.

څه وخت تېر شو.

د هغه خوراک تر کنترول لاندې راغی.

د نورو په شان به يې، درې وخت ډوډۍ خوړه.

د هغه اشتها د خامو هګيو سره لږه شوه.

تر دوې ډېرو هګۍ به يې نه شوې خوړې.

په رينتيا چې هغه سپوره خور شوی و.

څه وخت نور هم تېر شو.

د حاصلاتو وخت ورسېد.

غنم لو ييل شو.

صودر هم د غنمو لو پيل کړ.

پټې د ستريو ډک شوو.

بيا يې ستری ټولې او درمند ډاګ ته، و لېږدوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


البته یې درمند جوړ او غویان یې پر درمن وتړل.

هغه به په کړیو غوبل واهه.

غنم میده او د واښو نه، جلا شوو.

بیا یې غوبل خلاص کړ.

د مثلي وار، راورسېد.

بادونه لږ وو.

مثلي د خپل راشپیل او ښاخۍ (شاخۍ) سره د درمند په بادولو پیل کړ.

هغه به د غنمو بوس یوې او غنم به یې بلې خوا ته ټولول.

درمند پاک او د تللو وخت ورسېد.

خان او د کلي سپین ږیری هم د درمند پر سر ودرېدل.

خان صودر ته غږ کړ.

لاړ شه!

د کور نه من تیره او تله (ترازو) راوړه!

هغه و ویل:

سمه ده صیب!

بیا صودر ژر، ژر کلا ته، د ننه او د خان کور دروازې ته لاړ.

دروازه یې وټکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خان زوی دروازه، خلاصه او صودر ته یې سلام ورکړ.

صودر هم د خان زوی سلام ته، وعلیکم و ویل.

صودر و ویل:

ترازو او من تیږه تر دروازې راوړه.

درمند تیار دی.

زه هغه د درمند تللو له پاره، درمند ډاګ ته ورځم.

د خان زوی و ویل:

سمه ده!

ژر به یې راوړم.

د خان زوی کور ته، د ننه شو.

صودر د دروازی تر څنګ ودرېد.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې د خان زوی ترازو او من تیږه دروازې ته راوړه.

صودر ترازو او من تیږه یې خان د زوی له لاسه واخیسته او د لوی کلا دروازې خوا ته روان شو.

هغه د کلا نه و وت او درمند ډاګ خوا ته لاړ.

التہ، خان د هغه په انتظار و.

صودر درمند ډاګ ته، ورسېد او سلام یې ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خان د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې ترازو او من د درمند خوا ته کېښودل.

خان سپين ږيري ته و ويل:

بسم الله کړه او پر تللو يې پيل کړه.

هغه د درمند قبلي خوا ته لاړ.

الته يې ترازو کېښوده.

من يې هم د ترازو تر څنګ کښېښود.

بيا يوې ونې ته نږدې شو.

جب ته يې لاس د ننه کړ.

کوشني چاکو يې د جبه راو ويست.

چاکو يې خلاص کړ.

د پانو ډکه کوشنۍ لښته يې د ونې نه را پرېکه کړه.

چاکو يې بېر ته بند کړ.

هغه يې بېر ته جب ته د ننه کړ.

لښته يې د ځانه سره واخيسته.

بيا درمند ته، نږدې شو.

لښته يې د درمند په منځ کې وتومبه (چوخه کړه).

مثلی ته يې غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


راشپیل دې راکړه!

هغه راشپیل سپین ږیري ته ورکړ.

هغه راشپیل په لاس کې و نیوه او خان ته یې و ویل:

اجازه ده؟

خان و ویل:

هو!

هغه راشپیل درمند ته د ننه او یوه اندازه غنم یې بې توله د مثلي برخه جلا کړه.

بیا یې مثلی ته و ویل:

همدومره، سمه ده؟

هغه و ویل:

هو!

کور دې ودان.

بیا یې خان ته و ویل:

ستا هم خوښه ده؟

هغه و ویل:

هو!

بیا ترازو یې واخیسته او من یې په کینې پلې کې کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ترازو راسته پله یې د غنمو درمند ته، د ننه کړه.

په کیڼ لاس یې ترازو راپورته کړه.

بیا یې و ویل:

یو برکت نام خدا یو.

بیا یې دوېیمه او درېمه ترازو غنم وتلل.

پر هر وار تللو به یې، برکت کلمه استعمالوله.

بیا خان صودر ته و ویل:

اوس ته تله (ترازو) واخله او درمند وتله.

زه او سپین ږیری به د غنمو شمېره ونیسو.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا سپین ږیري ترازو پر ځمکې کېښېنوده.

صودر ترازو په لاس کې ونیوه او پر تللو یې پیل کړ.

هم به هغه او هم به سپین ږیري ویل:

... برکت نام خدا ... برکت.

هغه به یوه ترازو یوې خوا او څلور به یې بلې خوا اچوې.

چې یوه برخه به د صودر او څلور نورې به یې د خان برخه کېده.

غنم مخ په لږېدو شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خان و ویل:

د ماشومانو لېکۍ ته دې پام وې.

هغوي ته برخه پرېږده.

بیا یې ولیدل چې نهه لس منه غنم پاتې دي.

صودر ته یې و ویل:

تلل بس کړه!

لاړ شه او ماشومانو ته غږ کړه.

څه ماشومان له ورایه د لېکۍ په انتظار وو.

یوه کس و ویل:

صودر اکا!

ته دلته و ووسه، زه به نورو ماشومانو ته، غږ کړم.

ماشوم په منډه کلا ته د ننه شو او ماشومانو ته یې غږ کړ.

واړو الکانو او انجنو منډې پیل کړې.

ټولو درمند ډاګ ته ځانونه ورسول.

بیا خان غږ کړ:

نور څوک هم پاتې دي؟

ماشومانو و ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا خان سپین ږیري ته و ویل:

لیکی پیل کړه.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا سپین ږیري ماشومانو ته و ویل:

په لیک کي ودرېږئ.

یو، یو را نږدې شئ.

ماشومان لږ لرې ودرېدل.

هغوی به په وار سره نږدې کېدل او سپین ږیري به د هریوه الک او جلي په لمنو کي په لپو غنم اچول او کوښښ به یې کاوه چې په یوې اندازي غنم واچوي.

ماشومان خلاص او کورونو ته لاړل.

څه غنم نور هم پاتې شوو.

خان سپین ږیري ته و ویل:

نور یې هم ستا برخه.

سپین ږیري مننه وکړه.

بیا یې هغه ته و ویل:

زما د برخې نه هم پنځه منه وتله!

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه هم د خان د برخې نه پنځه منه غنم و تلل.

غنم يې يوې خوا واچول.

بيا خان و ويل:

بوجۍ راواخلئ او د غنمو نه يې ډکې کړئ، بيا يې کورو ته د ننه کړئ تر څو له سترګو (نظره) نه شي.

نورو د کلي ځوانانو هم په کې برخه واخيسته او په څو ګړيو کې ټول غنم د ننه کړل.

بيا خان صودر ته و ويل:

خپل غنم دې خپلې کوټې ته يوسه.

سر له سبا نه خپل خرڅ (خرچه) په خپله وکړه.

هغه و ويل:

سمه ده!

غرمه شوه او کس خپل کور ته لاړ.

صودر څه غنم په کليوالو وپلورل او پيسې يې واخيستې.

هغه بازار ته لاړ او د کور اړين شيان يې وپېرېدل.

څنډ وروسته سودا سره کور ته، ستون شو.

کتغ يې پوخ او ډوډۍ يې له کليوالو نه پور واخيسته.

د غرمې ډوډۍ يې په ماسپښين کې، وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بيا يې څه غنم وتلل او ژرنديې ته يې، يوړل.

التـه يې اوړه کړل.

بيا يې کور ته راوړل او يوه دهقان ته يې ورکړل.

دهقان به هغه ته پخې ډوډۍ ورکوې.

وختونه تېرېدل او د هغه ژوند هم مخ ته، ته.

په پسرلي کې به يې غنم او په مني کې به يې شولې اخيستې.

خان به د حاصلاتو په وخت کې هغه ته، د پنځمې يوه برخه غله ورکوه.

څه وخت نور هم تېر شو.

د صودر پسې ولسوالۍ نه، جلب راغى.

جلب د عسکرۍ و.

خان جلب ولوست او د جلب راوړونکى ته يې و ويل:

سمه ده!

زه هغه سبا ته ولسوالي ته ليږم.

اوس به هغه خپل کالي ټول او بستره وتړي.

جلب راوړونکي پوليس و ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو سبا به هرو مرو راځی چې کوماندان (قوماندان) صیب په غصه نه شي.

خان و ویل:

سمه ده!

ته سوچ مه کوه.

زه یې درلېږم.

بیا خان هغه ته و ویل:

راشه!

دیرې ته زما سره چای و څښه!

لاره ډېره او ته به ستومانه شوی وې.

کس هم دېرې ته لاړ.

خان هغه ته چای و غوفت (فرمایش ورکړ) .

څه ځنډ وروسته شین چای راورسېد.

د خان زوی کس ته چای په پیالې کې واچاوه او د ګوړې (ګړې) غاب یې هم ورته، نږدې کړ.

هغه پوره دوې پیالې چای په خوند سره وڅښه.

بیا یې د خان او ناست نورو کسانو نه، خدای پاماني واخیسته او بېرته ولسوالۍ خوا ته روان شو.

ورځ تېره او شپه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


صودر ډېر په سوچ ( تشویش) کې و.

هغه دا سوچ کاوه چې عسکرئ نه وروسته به بیا چېرته دنده پیدا کړي.

څکه هغه د خان او کلي نورو کسانو سره، بلد شوی و.

شپه سبا شوه.

هغه د نورو ورځو په شان وختي اوداسه ته لاړ.

لمونځ نه وروسته بېرته کوټې ته ستون او خپله بستره یې وتړه.

بیا یې چای دم او پر ښنلو یې پیل کړ.

په دې وخت کې خان د هغه کوټې ته د ننه شو.

صودر په سوچ (چورت، چرت) کې ډوب و.

خان و پوښتل:

څه سوچ کوې؟

هغه و ویل:

اوس دلته بلد شوی وم.

عسکرئ نه وروسته به څه وکړم؟

خان و ویل:

عسکرئ نه وروسته به دلته راځې.

که ژوندی وم څه کار به درته، و مومم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يا به درته بېرته د چوکۍ دهقانی درکړم.

هغه خوشحاله شو.

د خان نه يې مننه وکړه.

بيا يې خپله بستره د کوټې نه د باندې کړه.

د کلي نور کسان هم راټول شوو.

ټول خپه ښکارېدل.

بيا يوه کس د هغه بستر شا ته واچوه او د کلا دروازې نه يې د باندې کړه.

په دې وخت کې خان صودر ته و ويل.

د کوټې دروازه دې وتړه او کلف (قفل) يې کړه.

هغه دروازه وتړه او کلف (قفل) يې کړه.

بيا يې کلي خان ته ورکړه.

صودر و ويل:

په کوټې کې لږ اوره او څه نور د پخولو شيان دي.

که چېرې کوم سوالګر راځي، مهرباني وکړئ هغه ته يې ورکړئ.

خان و ويل:

سمه !

ته سوچ مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر څه به سم، مخ ته لاړ شي.

بیا خان مخکې او نور کسان ور پسې شوو.

ټول د کلا دروازې نه د باندې شوو.

بیا د کلا دروازې اړخ ته ودرېدل.

صودر په وار سره د خان او نورو کلیوالو سره خدای پاماني وکړه.

بیا یې غوښتل چې خپله بستره څټ (شا) ته واچوي.

په دې وخت کې خان و ویل:

بستره به دی زمرک شا ته کړي او له تا سره به یې تر ولسوالۍ وېسي.

صودر و ویل:

زمرک به په تکلیف شي.

زمرک و ویل:

نه!

څه تکلیف؟

ته خو لکه زما اکا او نن میلمه یې.

صودر و ویل:

سمه ده!

څرنګه چې ستا خوښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زمرک بستره شا ته کړه او روان شو.

صودر هم ور پسې شو.

خلک ولاړ او د هغوی ننداره يې کوه.

هغه په لاره روان و تر څو د سترګو نه پنا شوو.

خلک هم بېرته، څوک دېرې او څوک خپلو کروندو خواوو ته روان شوو.

د صودر ځای خالی پاتې شو.

فصل په ځمکې کې ولاړ و.

شولې ورېبل شوې.

درمند شوې.

بيا د مثلې په مرسته (ذريعه) باد او پاکې شوې.

درمند و تلل شو.

د صودر برخه جلا شوه.

وريژې (وريجې) تيارې شوې.

د صودر برخه په کليوالو وپلورل شوه.

پيسې يې خان واخيستې او خپلې بنځې ته يې د ساتنې له پاره، ورکړې.

د هغه عسکري هم په پکتيا کې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د عسکرۍ موده هم په هغه وخت کې، دوې کاله وه.

هغه کولای شو چې په کال کې یو ځل کور ته لاړ شي.

کال تېر شو.

صودر هم کلي ته ستون شو.

ټول خوشحاله شو.

خان ورته د هغه برخه خرڅې کړو وریجو پیسې ورکړې.

صودر ډېر خوشحاله شو.

یوه اونۍ یې په خپلې کوټې کې تېره کړه.

خان او د کلي نورو کسانو به هغه ته ډوډۍ او نور خواړه ورکول.

اونۍ په چټکۍ سره، تېره شوه.

هغه ناچاره (مجبوره) و چې بېرته عسکرۍ ته، لاړ شي.

بله شپه یې هم وکړه.

بیا سهار چای نه وروسته د کابل موټرو تم ځي خوا ته، روان شو.

ګړۍ وروسته د کابل موټرو تم ځای ته، ورسېد.

په یوه بس کې و خوت.

کابل ته ورسېد.

شپه یې التّه په یوه سماوار کې، تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سهار وختي له لمانځه نه وروسته د پکتیا موټر تم ځای خوا روان شو.

الته ورسېد.

غرمه نږدې وه.

الته یوه رسټورانت ته د ننه شو.

د غرمې ډوډۍ یې په خوند سره وخوړه.

بیا یې د شین چای فرمایښت ورکړ.

چای یې هم وڅښه.

بیا نږدې جومات ته روان او لمونځ یې ادا کړل.

بیا اخوا دېخوا وګرځید.

د پکتیا موټرو خوا ته لاړ.

الته په یوه بس کې کښېناست.

ګړۍ تېره شوه.

بس ډک او موټر مخ پر پکتیا یې، حرکت وکړ.

بس لمړی لوګر و لایت بیا ګردیز ښار ته ورسېد.

ټول د موټر نه ښکته شوو.

هرکس خپلو کورونو خوا، روان شوو.

صودر هم خپلې قطعي خوا، روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هغه لین کې موټر خورا لږ وو.

هغه ناچاره و چې، په پښو لاړ شي.

ماښام شو.

سپوږمۍ د څوارلسم ښکارېده.

اوا (هوا) روښانه وه.

لاره پوره، ښکارېده.

صودر درې ګړۍ په پښو لاړ.

هغه خپلې قطعې ته ورسېد.

نظام قراول ته، نږدې شو.

التــه ودرول شو.

هغه و ویل:

زه د دې قطعې عسکر یم او د رخصتۍ نه وروسته بېرته ستون شوی یم.

بیا یې خپل اسناد د قراول عسکرو ته وښودل.

یوه عسکر اسناد و لوستل.

بیا یې د تلاشۍ نه وروسته، د ننوتو اجازه ورکړه.

هغه خپل ټولي ته لاړ.

بیا یې د نور عسکرو او ملګرو سره ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تولو سره یې روغبړ وکړ.

بیا خپل کاغوش ته لاړ.

خپلې بستر ته نږدې شو.

هغه ډېر ستړی شوی و.

خپل پنډ یې سر خوا ته کښېښود.

ځان یې بسترې کې واچوه.

بالښت یې تر سر لاندې کړ.

کمپله یې پر ځان کش کړه.

څو دکیکې یې سوچونه و وهل.

په سوچو، سوچو کې بیده شو.

وختونه تېرېدل.

د هغه عسکري هم مخ په خلاصېدو شوه.

نږدې الته قومې جګړې پیل شوې.

هغه هم د نورو عسکرو سره یوه ځای د جګړې ډګر(میدان) ته لاړ.

هغه ډېر چالاکه او زړور و.

تر نورو عسکرو دمخه شو.

هېڅ نه بېرېده.

هم به یې ډزې کوې او هم به مخ ته، روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قومونو جنګيالي سره بېل شوو.

ډېرې يې حکومتي عسکرو ژوندۍ ونيول.

وسلې يې ترې واخيستې.

څه يې بنديان او څه يې وتېښتېدل.

جګړه پای ته ورسېده.

عسکر بېرته خپلو قطعاتو ته لاړل.

د قومونو مشران تحقيقات له پاره کابل ته وغوښتل شوو.

د صودر په قطعې کې غونډه جوړه شوه.

د جګړې قهرمانانو، ستاينه وشوه.

د جګړې شهيدانو له پاره د جنت دعا او ژوبلو کسانو ته د ښه صحت غوښتنه وشوه.

صودر او نور زړورو عسکرو ته د ستاينليک تر څنګ، نقدي پيسې هم ورکړ شوې.

صودر هم ډېر خوشحاله شو.

هغه درې زره د وخت پيسې تر لاسه کړې.

څه موده نوره هم تېره شوه.

هغه د عسکرۍ نه،خلاص (ترخيص) شو.

خپله بستره يې وتړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کالي يې غونډ او اسناد يې په جب کې کښېښودل.

سهار وختي يې له ملګرو نه خدای پاماني واخيسته او مخ پر کابل اډې، روان شو.

غرمه ګردېيز ښار ته ورسېد.

بيا د کابل په موټر کې کښېناست.

شپه يې کابل ښار ته ورسوه.

شپه يې په رستورانټ کې تېره او سهار وختي د لغمان موټرو اډې ته يې ځان ورساوه.

ګړۍ يې الته تېره او په يوه بس کې ځای پيدا کړ.

بستره يې د موټر په جنګلې کلکه وتړه.

ماښام خپلې ولسوالی ته ورسېد.

بستره يې د موټر نه کښته او د موټروان پيسې يې ورکړې.

بيا يې بستر شا ته واچوه او کلي ته روان شو.

ماسخوتن لمانځه اذانونه پيل شوو.

هغه ماسخوتن نا وخته کلی ته، ورسېد.

د کلا دروازه خلاصه وه.

هغه د دېرې نه تېر او جومات خوا ته روان شو.

خلک د لمانځه نه خلاص شوي او په وتو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کليوالو صودر وليد.

صودر هم بستره پر ځمکې کېښوده.

روغبړ پيل (شروع) شو.

کليوال ټول خوشحاله شو.

څه ځنډ وروسته کليوالو د هغه بستره راواخيسته او د هغه کوټې ته يې وبوړه.

صودر په خوشحالۍ سره خپلې کوټې ته، ننوت.

بستره يې پر کټ اواره کړه.

کليوالو هغه ته ډوډۍ او چاى راوړ.

هغه په خوند سره ډوډۍ وخوړه.

بيا يې چاى وڅښه.

ځنډ وروسته بيده شو.

سهار وختي له خوبه پاڅېد.

د اوداسه او لمانځه له پاره د باندې و وت.

لمونځ يې په جمع ادا کړ.

خان هم لمانځه ته راغلى و.

د صدو په ليدو سره ډېر خوشحاله شو.

بيا يې د سپين ږيري پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خان و ویل:

هغه دوې میاشتې دمخه ومړ.

خدای دې ورته جنت په نصیب کې.

هغه ډیر ښه سړی و.

صودر د هغه په مرګ ډېر خپه شو.

بیا صودر د جومات په انګړ کې ستون او د خلکو سره یې د عسکرۍ او جګړې کیسې پیل کړې.

کیسو ډېر وخت و نیو.

بیا خان ورته و ویل:

ته کولای شی خپلې کوټې کې پاتې شې.

دنده به دې هماغه وي.

صودر ډېر خوشحاله شو.

کال تېر شو.

خان د نورو کسانو په مرستې سره، هغه ته کوژده وکړه.

کال وروسته یې هغه ته واده هم وکړ.

د صودر کور ودان شو.

کال وروسته یې زوی هم دې نړۍ (دنیا) ته راغی.

خوشحالي یې لا ډېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سیمې کې حالات ګډوډ شوو.

خان د سیمې نه ښار ته کډه وکړه.

خان صودر ته ځمکه اجاره ور کړه.

بیا یې ځای ورته بدل او هغه یې خپل انګړ ته انتقال کړ.

البته یې ورته دوې خونې ورکړې.

هغه ته یې دنده وسپاره ترڅو د غویانو، خوسیانو، چرګانو،بتکوو او فیل مرغانو نه هم ساتنه وکړي.

هغه په ورین تندي و منه.

کال بل هم تېر شو.

خان ناروغه شو.

زامنو یې هغه ګاونډ هېواد ته د درملنې له پاره بوته.

څو میاشې یې د هغه درملنه وکړه.

هغه د سرطان په ناروغۍ اخته شوی و.

دوې واره یې عملیات وکړ.

خو روغ نه شو او میاشت وروسته ومړ.

ځامنو یې د هغه مړي بېر ته کلي ته راوړ.

البته یې د هغوي په پلارنۍ ادیرې کې ښخ کړ.

صودر د خان په مرګ ډیر خپه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ورته په لمنځونو کې د جنت، دعا کوه.

کال بل هم تېر شو.

په کليو کې حالات نور هم کړکېچن شوو.

صودر هم مجبوره شو چې د نورو کروندګرو په شان سيمه پرېږي.

خلک د کليو نه ښارونو ته لاړل.

بد بختي پيل شوه.

ځمکې شاړې شوې.

حکومت بدلون وموند.

خلک د ښارونه نه هم، نورو ګاونډ هيوادونو ته کډه شوو.

د خان ځامن هم کابل ته کډه شوو.

البته يې حکومتي دندې تر لاسه کړې.

کله نا کله به يې د ځمکو پوښتنې کوې.

البته تګ د ستونځو سره وه.

هرې خوا نلونه راشنه شوي وو.

د ځمکو پېژندنه هم آسانه کار نه و.

صودر د خان کلا کلف او خدای ته يې وسپاره.

هغه هم د خپلې کورنۍ سره وختي له خوبه پاڅېد.

کالي، مالي يې راټول کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یو کس نه یې دوې خره راسوتل او خپل کالي یې پرې بار کړ.

هغه هم د ځینو کسانو په شان ګاونډ هېواد ته کډه شو.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د چاپ شويو کتابونو لیست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجنیری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجنیری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجنیری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجنیری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګرۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه تولګې کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجنیرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦۱. دخاخکو هار (د یوه سرې لندې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برسېتن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینی انجلۍ تر نړیدلې ودانۍ (پښتو بهرنۍ ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توري چشمې (عینکې) پښتو ناول
١٠٥. د چک ولسوالی نه (٩) برجه کلا
١٠٦. د یوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول)
١٠٧. ښکلا (پښتو ناول)
١٠٨. د نارنج غونډۍ
١٠٩. د چوکې دهقان (بزګر، کروندګر)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کار لاندې کتابونو لیست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د وخت او امکان په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: January / February 2029

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**